مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۶/۰۳/۳۰

# باران سوځي په اورکي

د یوه سړي د لاسه ټول جهان سوځي په اور کي.
ایران نه دئ چي یي یاد کړم نن سوډان سوځي په اورکي.

داسي کس نسته نړی کي چي پوښتنه ترینه وکړي.
په کوم جرم په غزه کي مسلمان سوځي په اور کي .

د سومال به څه نه وایم ناخبره تري جهان دئ .
د یهودو په بمبارد کي هم لبنان سوځي په اور کي.

د بل توره طلا غواړي که په جنګ وي که په صلحه
په ني ني که جواب ورکړي عربان سوځي په اور کي .

په یوه نامه او بل یي ټول جهان دئ را ښکیل کړی.
د بشر حقوق بانه دي انسانان سوځي په اور کي .

د جواب سړي یي نسته د یو کس پادشاهي ده.
په لویدیځ او په ختیځ کي ټول شاهان سوځي په اور کي.

بوټي و سیځل باروتو ماشومان زیږي معیوبه.
د بمونو مور د لاسه افغانان سوځي په اور کي.

مځکه ډکه سوه د مړو ده ژړا د برارو میندو
د یوه ظالم د ظلمه ماشومان سوځي په اور کي .

دا پر سد که لیونی دی چي نړی یي سره تبی کړه.
انسان څه کړي چي سوځیږي هم حیوان سوځي په اور کي.

څه پیښیږي څه به پیښ سي عقل اوفکرورته حیران دی.
د نیوکان له نظریي نه یو انسان سوځي په اورکي .

ویده به ژر را ویښ سي د خوب وختونه تیر سوه .
د خوبه به را پاځي ظالمان سوځي په اور کي.

دا نومیر نه دی چي وایي نړیوال یي شاهدان دی.
دا ناشوني راسه واوره چي باران سوځي په اور کي .

۲۷- مارچ - ۲۰۲۶
متحده ایالات - کلفورنیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ